# د (D) برخه: د کرهنیزو نباتاتو تولید

## شپږم لوست: د غوړي لرونکو نباتاتو کرهنه

# اصطلاحات

- Legume دانه لرونکی نباتات.
- Oil crops غوړي لروونکی نباتات.
- Linters هغه ماشین چی د پنبی په تخم باندی نښلیدلی لنډی سپنسی راټولوی.
- Boll د پنبی غوزه  یا گل.
- Cotton picker د مالوچو ټولوونکی ماشین.
- Retting د لنده بل اخستلو په موخه پریښودل.



# ا. مالوچ

الف) مالوچ له هغو نرمو سپنسو یا ریښکیو څخه عبارت دی چی د پنبی د تخم یا زنړی په چاپیریال که وده او نمو کوی.
پنبه هغه بوټی دی چی د نړی په تودو او نیمه تودو هیوادنو کی دامریکی، هند او افریقی په شمول هیوادنو کی کرل کیږی.



# مالوچ

له ریښکی یا سپڼسی  ښخه په عمومی توګه تار لاس ته راځی چی بیا د نرمو ټوکرانو او کتان په جوړولو کی ورښخه کار اخستل کیږی. دغه اوبدل شوی کتان د طبیعی  کپړو او کالیو په جوړولو کی په پراخه توګه کارول کیږی. د پنبی سپڼسی او تخمونه په بیلابیلو تولیداتو کی کارول کیږی.

# مالوچ (پنبه)

ب) پنبه له زنی څخه پیل کوی د پنبی د ودی او نمو موسم له ۱۵۰ څخه تر ۱۸۰ ورځی نیسی.

ت) که چیری پنبه د لاس په وسیله سره وکرل شی، نو بیل ته د نیغی کرښی په امتداد حرکت ورکړۍ او د کرلو لپاره یو کتار جوړ کړئ، که چیری غواړی چی ډیر کتارونه ولری، نو کتارونه د ۳۷ سانتی میټرو په واټن یو له بله لری جوړ کړئ. مخکی له کرلو څخه ځمکه ښه خړوبه کړی تر څو په کافی اندازه لندبل واخلی.

# مالوچ (پنبه)

ث) د پنبې بریالی کرهنه هغه وخت کیدای شی چی د ډیر وخت لپاره پرخه ( Frost ) نه وی ، د لمر وړانګي په کافی اندازی موجودی وی ،معتدله باران له ۶۰۰ څخه تر ۱۲۰۰ ملی مټر پوری موجود وی .خاوره په عمومی توګه باید درنه وی ولی د ځمکی د غذایی سطحی ځانګړی حالت ته اړتیا نشته .په اوس وخت کی پنبه په هغه ځایونو کی کرل کی چی لږ باران لری چی خړوبونه یی د ابو ورکولو له لاری تامینیږی.

# مالوچ (پنبه)

ج) د پنبی سپینسی د غوزی په مینځ کی وده کوی . غوزه د پنبی د نبات له کپسول یا پوښ څخه عبارت ده.

ح)د پنبی هره غوزه نژدی له ۲۸ څخه تر ۳۵پوری د پنبی زنې لری.

# مالوچ (پنبه)

مالوچ د نړی په ډیرو برخو کی تر اوسه هم د لاس په وسیله سره راټولیږی.



# مالوچ (پنبه)

- ولی د نړی په ځینو برخو کی د مالوچو راټولول په میخانیکی توګه د پنبی ټولونکی ماشین (Cotton Picker) یا پنبی پوستوونکی ماشین( Cotton Stripper) په وسیله سره ترسره کیږی. پنبه ټولونکی ماشین (Cotton Picker) داسی یو ماشین دی چی مالوچ له غوزی څخه په داسی بڼه جلاکوی چی د پنبی نبات ته هیڅ زیان او ضرر نه رسوی. پنبه پوستونکی ماشین ( Cotton Stripper ) داسی ماشین دی چی د پنبی غوزه په بشپړه توګه پوچوی. پنبه پوستونکي ماشین په هغو ځایونو کي ډیر کارول کیږي چیرته چي ډیر بادونه موجود وي. همدغه علت دی چی په دغو ځایونو کي د هغي پنبي کرهنه مناسبه نده کومه چی په لاس سره ټولیږی.

# مالوچ



پنبه ټولونکي ماشین Cotton Stripper




مالوچ پوستونکي ماشین (Cotton Stripper)

# مالوچ

- د پنبي د ريبلو او درمن وخت هغه وخت ترسره کيږي کله چی د پنبي غوزه يا ګل پرانستل شي.



Cotton ready for harvest

# مالوچ

د) پنبه یو ځو کلنه نبات دي چي په استوايي (حاره یا ګرمه) مناطیقو کي چیرته چي د پاني تویدنه او پرخه نه وي ښه وده او نمو کوی.

ذ) مالوچ له ریبلو وروسته په پیمانو کي کیښودل کیږي، بیا وروسته د مالوچ پاکوونکي ماشین ته انتقالیږي چیرته چي د پایپونو په وسیله سره ودانی ته کش کیږي.

ر) د پنبي زڼي او سپڼسي (تارونه) سره جلا کیږي، سپڼسي یي نجوړل کیږي او د ګیډیو په بڼه سره برابریږي، وروسته د ټوکرانو کارخاني ته وړل کیږي.

# مالوچ

ز) د ټوکرانو په کارخانه کي، سپنسي پاکيږي او سره يوځاي کيږي او بيا د شيننو ماشين ته د لا ښه پاکيدو په موخه وړل کيږي.

س) وروسته له دي چي د شينلو پړاو تير شي، نو بيا ږومنځ لرونکي ماشين د پاکولو اوښتون يا پروسه ختموي او سپنسي سره تاووي او داسي مزي جوړوي چي د (sliver) په نوم باندي ياديږي.

ش) دغه نرئ تار (Sliver) بيا د رسم او اوښتي ټوکر له چوکاټ (slubber) څخه تيريږي تر څو نرم مزي جوړ او د هغوي په تاوولو باندي پيل وکړي.

# مالوچ

ص) د ټوکران د ریژولو ماشین مالوچ په ماکو باندی راتاووي.

ض) د پنبي سپنسي د کنۍ په ماشین کي په ټوټو باندي اوړي.

ط) له اوبدلو وروسته ټوکر هغه ماشین ته وړل کیږي چیرته چي ښه پاکیږي او هلته مخکي له غونجیدلو په کیمیاوي وسایلو سره مینځل کیږي، رنګ کیږي انځورونه او نښي پري لګول کیږي چي بیا وروسته د کالیو او نورو محصولاتو په بڼه بدلیږي.

# مالوچ

ظ) د مالوچو یوه ګیډي نژدي ۲۱۸ کیلو ګرامه وزن لري.

ع) که چیری ۱۲۰ کیلوګرامه پنبه ولرو نو په هغه کی به ۴۵ کیلوګرامه مالوچ او ۷۵ کیلوګرامه زنۍ یا تخم موجود وی.

غ) هغه لنډي او کلکي سپینسي چي د پنبي به زنو پوري نښلیدلي دي له هغوي څخه پلاسټیک، د چودني توکي، کاغذي تولیدات، بالښتونو، دوشکي او داسي نور شیان جوړوي.

# مالوچ

ف) پنبه یو له غوړ لرونکو نباتاتو څخه شمیرل کیږي.
غوړلرونکي نباتات چي غوړي د هغوي له زړنو یا میوو څخه لاس ته راځي ډیر ارزښت لري ،د پنبي د زړنو غوړي په خوړو شیانو، د پخولو (پخلي)، دسلاید او چکنی لپاره کارول کیږي.

ق) د پنبي د زړنو اوړه او پوست یی د سري (کود) د څارویو د خوارکي توکیو، د چرګانو د داني او د ماهیانو د غذایي توکیو په توګه کارول کیږي.

# II. د لمر ګلان (کاپر ګل)

- الف) شواهد او مدارک دا په ګوته کوی چی کاپر ګل د لومړنیو امریکانو(سورپوستو) په وسیله ۳۰۰۰ کاله وړاندی له میلاده په اریزونا ننی نوی مکسیکو کی کرل شوی وو.



# د لمر ګلان (کاپر ګلان)

ب) د لمر ګلان په ۳,۷ متره اوږدوالی او ۲,۳ متره ژوروالی سره شنه کیږی (زرغونیږی).

ت) د لمر ګل په عمومی توګه یو ډډ، یو لوی ګل یا هم ډیر کوچینی ګلان لری.

# د لمر ګلان (کاپر ګلان)

ث)  لکه څنګه چی ددغه ګل له نوم څخه ښکاریږی، دغه ګل لمر خوښوی، او په لمر لرونکی موقعیت او ځای کی په زړه پوری پایله او نتیجه ورکوی. یوه عمومی لارښونه ددغه ګل په هکله دا ده چی باید د کرلو لپاره یی داسی ځای غوره شی چی په ورځ کښنی په کمه اندازه شپږ ساعته له لمر څخه ګټه واخلی. که چیری د لمر ګل په سیوری کی وکرل شی، کیدای شی ځان اوږد کړی تر څو لمر ته ځان ورسوی. او که چیری په داسی ځای کی وکرل شی چی ډیر بادونه ولری نو بیا اضافی ډډ ته اړتیا لری.  د لمر هغه ګلان چی له اوږده نوع څخه وی په محافظوی کتارنوکی کرل تر څو له ښی اتکا څخه برخمن وی.

# د لمر ګلان (کاپر ګلان)

ج) د لمر ګلان په عمومی توګه د اپریل او جون د میاشتو په مینځ کی کرل کیږی. او ددغه ګلانو ډیری نوعی د ۷۵ او ۱۱۰ ورځو په مینځ کی پخیږی. تاسی کولای شی د لمر ګل له وروستی یخی هوا ( Freeze) څخه د ژمی تر بیا پیل پوری وکری. د ژمی له لومړنی ډیری سړی هوا څخه له ۷۵ څخه تر ۱۰۰ ورځو مخکی د لمر ګل کرل (بذر) بند کړئ.

# د لمر ګلان (کاپر ګلان)

ح) د ۲,۵ څخه تر ۸,۹ سانتي میټر په ژوروالی سره د لمرګل تخم کرل، د ګل زیږی ته دا لاره برابروی تر څو په خاوره کی موجوده لندبل ته ځان ورسوی، دغه کار د لمرګل د په زړه پوری پیاوړتیا لامل هم کیږی. که چیری د کلکی خاوری امکان موجود وی، نو پدغه صورت کی د ځمکی پر مخ (لږ ژوروالی) سره د لمرګل د کرهنی سپارښتنه کیږی. په عمومی توګه د کتارونو تر مینځ واټن ۷۶ سانتي متره وی.

# د لمر ګلان (کاپر ګلان)

خ) غوړي د لمر ګل له ريبلو وروسته تر لاسه کيږی. د لمرګل ريبل بايد داسی وخت ترسره شی چی په وږی کی زني يا تخمونه پاخه شوی وی. د وږيو برسيره خوا بايد زيړبخنه يا پوره زيړه او د لمرګل پاڼی نسواری رنګ اختيار کړی وی د لمرګل ډډ له ځمکی يو فټ پورته وريبئ او د هغه وږی په ګرم او وچ ځای کی ځوړند کړئ.

# د لمر ګلان (کاپر ګلان)

- که چیری د لمرګل وږي په یوه جالی ورته ټوکریا جالی کی وتړل شی نو دغه کار پر ځمکه د زڼو یا تخمونو د تویدلو مخنیوی کوی. که چیری د لمر ګل په داسی حال کی وریبل شی چی په پوره توګه وچ شوی نه وی، ضروری ده چی د لمر ګل وږي په هوالرونکی ځای کی چی وچ هم وی وځړول شی لکه په یوه کوچینی کوټه کی. او که چیری پداسی حال کی رییل شوی وی چی نبات په پوره توګه وچ شوی وی، نو بیا زڼی له وږو څخه ډیر په آرامی سره وموښئ او په مرتبان یا په ښه تړلی بوجی کښی یی زیرمه او ذخیره کړئ.

# د لمر ګلان (کاپر ګلان)

د) د لمرګل نبات په غوړ لرونکی او غوړنلرونکی نوعو باندی ویشل شوی دی.

ذ) د لمر ګل د ډیرو موخو لپاره کارول کیږی.

1. له لمر ګل څخه چی د خوړو کوم شیان ترلاسه کیږی هغه سپک خواږه ، د پخلی غوړی دی او د مرغانو خواږه.
2. غیر خوراکی توکی چی د لمر ګل څخه ترلاسه کیږی هغه عبارت دی له صابون، شمع او د ښایست ګلان.

# III. زغر

الف) عادی زغر (*Linum usitatissimum* L.).

دا یو له لومړنیو نباتاتو څخه دی چی د انسانانو په وسیله سره اهلی شوی. داسی فکر کیږی چی زغر د اروپا له مدیترانی منطیقی څخه سرچینه نیسی. د زغر تولید د سپېنسو او تخم لپاره وکارول شو.



# زغر

ب) زغر اوس هم دغوړو لپاره کرل کیږی او غوړی یی د زغرو د غوړیو په نوم یادیږی.

۱. د نړی په ځینو برخو کی د زغر تخم د نقاشی د وچولو، د ځلا غوړی، او د نقاشی د رنګ په توګه کارول کیږی او کله کله هم د واښو په توګه ریبل کیږی او دکاغذی تولیداتو لپاره ورڅخه کار اخستل کیږی.

۲. د زغرو دغوړیو خوارکی توکی ( د ۳۵٪ خامو پروټینو سره) د څارویو لپاره ښه د پروټینی خواړوسرچینه شمیرل کیږی، دزغرو واښه ددی لپاره چی د سلولوز لوړه کچه او خزلی لری د څارویو لپاره مناسب واښه نه بلل کیږی.

# زغر

ت) د زغر وده او نمو له زړی ځخه پیلیږی او له ۹۰ څخه تر ۱۸۰ ورځو په دوران کی پخیږیی. زغر یو کلن نبات دی چی له ۳۰ څخه تر ۹۱ سانتي مترو پوری اوږدیږی. زغر په لاندنی برخه کی یو عمده ډډ لری،په پورته برخه کی ډیری څانګی لری او ګلان تولیدوی. څانګی کولای شی د ډډ له بیخ څخه د نوعی، ځای او چاپیریال په نظر کی نیولو سره وده وکړی د زغر نبات د اصلی عمودی ریښی (Taproot ) لرونکی دی چی د ۹. څخه تر ۱۲. میټرو زیږه خاوره کی وده او نمو کوی.

# زغر

ث) زغر په سره لرونکی خاوره او  نرمه خاوره کی ښه وده کوی . د زغر کرل پداسی خاوره کی چی زیږه بافت یا شګه ولری مه کوئ. زغر پداسی خاوره کی چی د ډبرو سکاره یا تازه ښورا لرونکی ځمکی کی ښه نتیجه نه ورکوی . مګر دا چی د زیان رسوونکو وابنو، د ځمکی د مستی اوزهکشی ستونځی یی حل شی.

# زغر

ج) د زغر لپاره ډیر ښه د کرلو ځای (بستر) هماغه دی کوم چی د نورو بقولاتو او کوچینیو تخم لرونکی نباتاتو لپاره ښه او مناسب بلل کیږی. د تخم د کرلو ځای باید ښه چمتو شی. خاروه باید ښه متراکمه وی تر څو د منفذنو(سوررویو) د رامینځ ته کیدو مخه ونیول شی. دمنی کرهنی ته غوره والی ورکول کیږی په دی شرط چی د ځمکی ډیر سولیدل وجود ونلری. د تخم کرلو بستر کیدای شی سطحی چمتو شی، ژوره کرهنه هغه وخت مناسبه ده چی د زغر د نبات څخه وروسته جوار وکرل شی. کومه قلبه چی د منی په لومړیو کی وشی دغه کار د زیان رسونکو واښو په اداره او کنټرول که مرسته کوی.

# زغر

ح) په ۴. هکتاره ځمکه له ۱۹ څخه تر ۲۳ کیلوګرامه د ښه تخم د کرهنی سپارښتنه کیږی. که چیری تردی څخه کمه اندازه تخم وی نو ډیری ستونځی لری په ځانګړی توګه د زیان رسونکو واښو. په کلکه خاوره کی دتخم د ژوروالی اندازه له ۱,۷۵ څخه تر ۲,۵ سانتی متره پوری توصیه کیږی. د زغر زنې ډیری کوچینی دی که چیری ژوروالی ډیر وی کیدای شی د رازرغونیدو توان ونلری، په ځانګړی توګه که د ځمکی پوسته (crusting) واقع شی. کم تجربه بزګران نبات په ډیره بی حده ژوره کی کری په ځانګړی توګه کله چی ځمکه نرمه وی.

# زغر

خ) زغر په عمومی توګه هغه وخت پخیږی چی دډونه یی زیړ شی، غوزی یی نسواری رنګ ونیسی. ددرمن میده کول ډیر په آسانی ترسره کیږی.

د) د زغر ریبل داسی کیږی چی نبات له ریښی څخه ایستل کیږی، یا هم د ماشین په وسیله سره ریبل کیږی. په دواړو حالتونو کی زغر په ځمکه باندی خپریږی کیږی تر څو ښه وچ شی، وروسته له وچیدو د زغر تخم تولیږی بیا لندبل ورکول کیږی ترڅو سپښسی خوشی کړی وروسته له ( Retted and Soaked ) زغر په میخانیکی توربین کی پری کیږی تر څو یی سپښسی بهر شی.

# زغر





د چمن وهلو بیرل لرونکی ماشینونه

# زغر



د وچولو لپاره په پټی کی د لندبل لرونکو زغرو هوارول

# IV. سویابین

الف)   سویابین د نړی په ځینی برخو کی کرل کیږی.
سویابین کیدای شی په نړیواله توګه یو مهم نبات وشمیرل شی.





# سویابین

- سویابین یو  غوړی لرونکی نبات انګیرل کیږی. سویابین یا ( *Glycine max*) له یو کلنو بقولاتو (دانه لرونکو نباتاتو) څخه دی . دانه لرونکی نبات  ( Legume)  د هغو نباتاتو له ډلی څخه دی چی نایټروجن له هوا څخه ځمکی ته  ورکوی. سویابین ډیری انسانی ، صنعتی او زراعتی ګټی لری او د استعمال ځایونه یی ډیر دی.

# سویابین

ب) سویابین یا د سویابین ځینی برخی په یو شمیر صنعتی تولیداتو کی کارول کیږی، صابون، لوشن (هغه روغتیایی محلول دی  چی د مخ د مینځلو یا عفونی ضد کولو لپاره کارول کیږی )  کوم  کریمونه چی له سویابین څخه جوړیږی ډیر شهرت یی ګټلی دی. دغه نبات  په شمعی، پلاستیک، دنقاشی په رنګ  او سریښناکه توکیو کی هم شامل دی. له سویابین څخه د حشراتو ضد توکیو، د چاپ په رنګ او غوړو کی کار اخستل کیږی.

# سویابین

ت) سویابین د انسانانو په خوړو کی په بیلابیلو بڼو کارول کیږی . د سویابین څخه ګټه اخستنه د هغو خلکو په مینځ کی مخ په پراخیدو ده کوم کسان چی د ځان د روغتیا پاملرنه کوی. دا ځکه چی د سویابین خواړه د غواګانو او ماهیانو د غوښو په پرتله دوه برابره پروټین لری. د سویابین تولیدات چی د خوړلو په پلورنځیو کی موجود دی هغه عبارت دی له: د سویا شیدی، دسویا مستی، د سویاساندویچ، د سویا پنیر، د سویابین خانګړی یا فرعی تولیدات د چکنی یا د سلاډ لپاره مواد، مارګارین، کوکاوو شیرینی او اوړو کی کارول کیږی.

# سویابین

ج) څاروي هم له سویابین او د سویابین له تولیداتو څخه ګټه اخلی، دسویابین کیک، د سویابین غوړی د پروټین لرونکو غذایی توکیو په توګه څارویو ته ورکول کیږی.